دافغانستان اسلامی جمهوریت
د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون

جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون شکایات انتخاباتی

Islamic Republic of Afghanistan
Electoral Complaints Commission

---

# مطبوعاتی خبرتیا

**د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د جمهوری ریاست د ټاکنو د پایلو د تاییدولو په هکله خپلی پریکړی د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته وسپارلی**

**د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر ۱۹ مه**

د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د جمهوری ریاست د ټولټاکنو د رای اچونی او شمیرنی په هکله خپلی ټولی پریکړی نهایی کړی او په رسمی توګه یی د ټاکنو خپلواک کمیسیون سره شریکی کړی دی. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د نهایی پایلو د تائیدولو نه مخکی د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون د پریکړو سره سم د نوماندانو د رایو د مجموعو د اصلاح کولو مسولیت لری.

د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د جمهوری ریاست د ټاکنو د تصدیق په هکله دری پریکړی صادری کړی دی.

۱. د اګست د ۲۰ می نیټی نه را په دیخوا د ترلاسه کړل شویو شکایتونو د څیړنی پر بنسټ، د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون په ټول هیواد کی د رای اچونی د هغو ۲۱۰ محلونو رایی باطلی کړی کومو کی چی د درغلی ښکاره او مقنع شواهد ترلاسه شوی وّ.

۲. د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون د تفتیش او بیاشمیرنی د پروسی په پایله کی دی کمیسیون د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته حکم کړی چی د هر کاندید د رایو یوه مشخصه فیصدی په شپږو جلا کتګوریو کی باطله اعلان کړی. هره کتګوری د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون د ۲۰۰۹ کال د سپتمبر د ۸ می نیټی د حکم له معیارونو سره چی د رایی اچونی د هغو محلونو د څیړنی غوښتنه کوی په کومو کی چی د درغلی جدی شک موجود وی مطابقت لری.

۳. د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا د رایی اچونی د هغو ۱۸ قرنطین شویو محلونو د رایو د معتبر ګڼلو پریکړه وکړه چی په کی د درغلی هیڅ ښکاره شواهد ترلاسه نه شول. د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون دا منی چی د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا د رای اچونی نور قرنطین شوی محلونه په سمه توګه د ټاکنو له پایلو حذف شوی دی.

د ټاکنو د قانون پر بنسټ، د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون پریکړی او حکمونه نهایی او الزامی دی. د ټاکنو خپلواک کمیسیون مسولیت لری چی د ټاکنو د نهایی پایلو د اعلانولو نه د مخه د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون ټول حکمونه عملی کړی.

د هری پریکړی پوره متن د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون په ویبپانه www.ecc.org.af کی ترلاسه کیدای شی.

دلانورو معلوماتو لپاره له

احمد مسلم خرم

ahmad.muslem@ecc.org.af

+93 (0) 798188695

سره اړیکه ونیسی.